# ژبپوهنیز سیند

## انګلیسي - پښتو

### له پښتو اداينې سره

پوهنمل محمد عثمان څولیزی

ژبپوهنیز سیند

پوهنمل محمد عثمان څولیزی

# Linguistic Dictionary

## English to Pashto

*With Pashto Pronunciation*

Senior Teaching Assistant Mohammad Usman Solizay

2023

ISBN 978-9936-661-44-8

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# ژبپوهنیز سیند

## انګلیسي ـ پښتو

(له پښتو اداینې سره)

پوهنمل محمد عثمان خولیزی

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** ژبپوهنیز سیند (انګلیسي – پښتو) له پښتو اداینې سره

**لیکوال**: پوهنمل محمد عثمان څولیزی

**مهتمم:** څېړنیار محمد اسحاق مومند

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ کال:** ۱٤٠۱ل / ۱۴۴۴ هـ ق

**د چاپ ځای:** لایف ستار مطبعه، کابل-افغانستان

ISBN : ۹۷۸ -۹۹۳٦- ٦٦۱- ۴۴ -۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د ژبپوهنيز سیند په اړه څو خبرې ........ ا
د ژبپوهنې دا قاموس! ........ و
د ژبپوهنې سیند ........ ز
A ........ ۱
B ........ ۴۵
C ........ ۵۹
D ........ ۱۰۷
E ........ ۱۳۹
F ........ ۱۵۷
G ........ ۱۷۷
H ........ ۱۹۱
I ........ ۲۰۳
J ........ ۲۲۹
K ........ ۲۳۱
L ........ ۲۳۳
M ........ ۲۶۷
N ........ ۲۹۵
O ........ ۳۱۳
P ........ ۳۲۷
Q ........ ۳۸۷
R ........ ۳۸۹
S ........ ۴۰۹
T ........ ۴۶۷
U ........ ۴۹۳
V ........ ۵۰۳
W ........ ۵۱۹
X ........ ۵۲۸
Y ........ ۵۲۹
Z ........ ۵۳۰

**انګليسي – پښتو**

## د ژبپوهنيز سيند په اړه څو خبرې

قاموسپوهنه ( Lexicography ) چې د ژبو د لغوي زېرمو مسايل څېړي د علمي تړاو پر بنسټ په ټوله کې له ژبپوهنې (Linguistics) او په ژبپوهنه کې هم له وييپوهنې (Lexicology) سره تړاو لري. په پښتو ژبه کې قاموس ته د سيند، د سيند منځ، د سيند ژوره يا تل، د لغاتو زېرمه، د لغاتو مجموعه، د لغاتو کتاب او ځينې نورې نومونې کارول شوي او په انګرېزي کې ورته (Glossary)، (Vocabulary) يا (Dictionary) وايي.

په يوه ټاکلې پوهنيزه او کاري ساحه کې د يوې ځانګړې تخصصي- برخې وييونو ته (Glossary) وايي؛ همدارنګه هغه قاموسونه چې په انګرېزي کې يې (Vocabulary) بولي په عام ډول د يوې ژبې د عمومي لهجو د لغاتو ټولګې ته ويل کېږي او هغه قاموسونه چې د لغاتو معناوې پکې د الفبې په ترتيب سره راغلې وي په انګرېزي کې يې (Dictionary) بولي.

د سيند ليکنې د اصولو پر بنسټ سيندونه (قاموسونه) په عمومي توګه په دوو ډولونو وېشل کېږي، ژبني قاموسونه(Languages dictionaries) او دايرة المعارف (Encyclopedia). په ژبنيو قاموسونو کې يو ژبي (Monolingual dictionary)، دوه ژبي (Bilingual dictionary) او څو ژبي قاموسونه (Multilingual dictionary) شامل وي. په يو ژبي قاموس کې لهجوي، احصايوي، د ادبي اصطلاحاتو، د بهرنيو کلمو، ايتمولوژيکي، تاريخي، همدا راز مسلکي، سياسي، تخنيکي او د بېلابېلو علومو قاموسونه راتلای شي، چې د يوې ژبې لغتونه ببرته په هماغه ژبه معنا او تشرېح کوي. دوه ژبي سيندونه هغه سيندونه وي، چې په هغو کې د يوې ژبې لغات په بله ژبه معنا او تشرېح شوي وي او څو ژبي هغه قاموسونه وي، چې د يوې ژبې لغات پکې په څو ژبو معنا او تشرېح شي.

### د دې سيند د ليکنې ډول او جوړښت

د ښاغلي پوهنمل عثمان څوليزي دا ليکل شوی (ژبپوهنيز سيند) د ډول له مخې ژبنی

## ژبپوهنیز سیند

تخصصي او مسلکي قاموس دی او په ژبنیو سیندونو کې هم دوه ژبیز سیند ( Bilingual dictionary) دی، چې مبداء ژبه یې انګرېزي ده او پښتو ژبو ویونکو ته د ژبپوهنې پر اصطلاحاتو د پوهېدنې لپاره له پښتو اداینې سره چمتو شوی دی. دا سیند په مردف ډول لیکل شوی، چې اصطلاحات پکې د انګرېزي ژبې د (A) له توري څخه پیل شوي او د (Z) په توري پای ته رسېدلي، یعنې لومړی انګرېزي کلمه یا اصطلاح لیکل شوې، بیا یې انګرېزي وییګ(تلفظ) په قوس کې په پښتو تورو لیکل شوی او ورپسې د ذکر شوې کلمې یا اصطلاح بېلابېلې کارېدونکې پښتو معناوې راغلي دي. معمولاً پکې د انګرېزي کلمو او اصطلاحاتو پښتو لغوي معناوې رااخیستل شوي، خو په ځینو ځایونو کې د کلمو او اصطلاحاتو اصطلاحي معناوې هم لیکل شوي یا تشریح شوې دي. دا سیند له پیله تر پای پورې د کلمو او اصطلاحاتو د تشریح په برخه کې پښوییزې نښې، حالتونه او علامتونه نه لري، یعنې په عمومي ډول د ژبپوهنیزو اصطلاحاتو د زده کړې لنډ، روان او ساده قاموس دی، چې لیکوال د شونتیا تر برېده هرې انګرېزي کلمې یا اصطلاح ته په پښتو ژبه کې یوه، دوه، درې یا ډېرې معناوې پیداکړي چې په قاموس کې د راغلیو انګرېزي کلمو او اصطلاحاتو د معنا په پوهاوي کې له لوستونکو سره ډېره مرسته کوي.

### د دې سیند لیکنې اړتیا، اهمیت او ارزښت

د علومو او فنونو له رامنځته کېدو، ودې او پرمختیا سره د هر علم او فن په برخه کې د هماغه علم او فن د تشریح او پرې د پوهېدو لپاره ډېرو نوو تخصصي او مسلکي کلماتو او اصطلاحاتو ته اړتیا وي، دغه اصطلاحات په ډېرو علمي برخو کې نوي ایجادېږي او د هماغه اړوند علم ترمینالوجي ګڼل کېږي. ژبپوهنه که څه هم یو نوی علم ګڼل کېږي، یعنې په نولسمه میلادي پېړۍ کې د یوه علم په توګه وپېژندل شوه، خو دا چې په دې علم پورې اړوندې برخې په خورا چټکۍ سره په نړۍ کې د پرمختګ په حال کې دي، نو ورسره د دې نوي علم علمي اصطلاحات او ترمینالوجي هم د هرې ورځې په تېرېدو سره پراخېږي. ژبپوهنه په پیل کې په یوازې ځان یو ځانګړی علم و او ځانګړې علمي

## انګليسي – پښتو

اصطلاحات يې درلودل، خو د ژبپوهانو د پرلپسې څېړنو په پايله کې نن سبا ژبپوهنه ګڼې داسې څنګزنې ژبپوهنيزې څانګې لري، چې د نړۍ په بېلابېلو معتبرو پوهنتونونو کې پکې لوړې تخصصي او مسلکي زده کړې کېږي. نن سبا د ژبپوهنې هره يوه څنګزنه څانګه ځان ته ځانګړې علمي ترمينالوجي لري او د دې تر څنګ په علمي ډګر کې د يو منځځانګيز(Interdisciplinary) علم په توګه د ټولنيزو علومو له بېلابېلو نورو علمي څانګو سره تړاو لري، چې له امله يې د ټولنيزو علومو په بېلابېلو برخو کې هم ګڼه ژبپوهنيزه لغوي زېرمه برابره شوې ده. د ژبپوهنې د زده کوونکو، مينه والو او د ژبنيو مسايلو په برخه کې د څېړونکو لپاره ډېره مهمه او اړينه ده چې پر ژبپوهنيزو اصطلاحاتو وپوهېږي، خو له دې امله چې د دغه علم په اړه ډېرې نوې اکاډميکې څېړنې او ليکنې د نړۍ په پرمختللو ژبو، له هغې ډلې په انګرېزي ژبه کې دي، نو د نورو ژبو ډېرو ويونکو ته پرې د پوهېدو ډېره زمينه نه وي برابره. د نړۍ په ډېرو ژبو کې پوهانو د دې چارې د اسانتيا لپاره د خپلو ژبو ويونکو ته د بېلابېلو علومو په ځانګړي ډول د ژبپوهنې د علم د ترمينالوجي او اصطلاحاتو د تشريح لپاره ډېر يو ژبيز، دوه ژبيز او څو ژبيز قاموسونه ليکلي دي. په پښتو ژبه کې ژبنيو ليکنو او ژبپوهنيزو څېړنو هغه ډول چې لازمه ده، وده او پرمختګ نه دی کړی، ښايي په ځينو اثارو کې به په ابتدايي بڼه د ځينو ژبپوهنيزو کلمو او اصطلاحاتو لغتنامې جوړې شوې وي، هغه هم د ژبپوهنې د يوې ځانګړې برخې د لغاتو د تشريح لپاره، خو په عمومي ډول د ژبپوهنې د ټولو برخو او څنګزنو څانګو په اړه د يوه سيند په توګه څه نه دي برابر شوي.

د دې سيند د ليکلو اهميت په دې کې دی چې يو خو په پښتو ژبه يوازې د ژبپوهنيزو اصطلاحاتو، يعنې د غږپوهنې، ګړپوهنې، معناپوهنې، تشريحي ژبپوهنې، تاريخي ژبپوهنې، پرتليزې ژبپوهنې، کلتوري ژبپوهنې، وييپوهنې، ژبساپوهنې، اشتقاقپوهنې، ژبڅېړنې، ژبټولنپوهنې، کمپيوټري ژبپوهنې او د ژبپوهنې د ځينو نورو برخو په اړه پکې ژبپوهنيز اصطلاحات او کلمې معنا شوي او کله کله د اړتيا لپاره تشريح

## ژبپوهنيز سيند

شوې هم دي چې د ژبپوهنې او د ژبنيو مسايلو د څېړونکو او مينه والو لپاره لږ لږ تر لږه د اوس لپاره ډېر ګټور مواد لري.

بل دا چې ژبپوهنه او د ژبپوهنې څنګزنې څانګې نن سبا زموږ د هېواد د پوهنتونونو د لېسانس، ماسټرۍ او دکتورا په درسي نصاب کې د بېلابېلو مضمونونو په توګه تدريسېږي. دغه بېلابېل مضمونونه ځانګړې ژبپوهنيزه ترمينالوجي او اصطلاحات لري، په دغو اصطلاحاتو د پوهېدو لپاره د دغه ډول سيندونو ليکل ډېر ارزښتمن وي، ځکه زموږ محصلين په هغو کې هم محدود شمېر په دې برخه کې په نورو ژبو له ليکل شويو قاموسونو او سيندونو څخه ګټه اخلي، نو پکار ده چې د ژبپوهنې د علم په برخه کې موږ په خپله ژبه کې دغه ډول سيندونه ولرو.

ددې ژبپوهنيز سيند يوه ښېګړه دا هم ده چې که د ژبپوهنيزو اصطلاحاتو له ډلې د کومې اصطلاح يا کلمې معنا د چا پکار وي، نو په اسانۍ سره کولای شي په دې سيند کې د هماغې کلمې په لومړي توري پيل شوې کلمې وګوري او معنا يې تر لاسه کړي.

پر دې سربېره په دې سيند کې کافي ژبپوهنيزې کلمې او اصطلاحات په معياري پښتو ژبه ژباړل شوي دي، هغه پوهان چې غواړي له انګرېزي ژبې څخه پښتو ژبې ته د ژبپوهنې په اړه ليکل شوي آثار راوژباړي نو د ژبپوهنې د اصطلاحاتو د ژباړې په برخه کې ورسره دا اثر ډېره مرسته کولای شي.

د دې سيند بل اهميت او ارزښت په دې کې دی، چې د ليکنې لپاره يې ليکوال د پښتو ژبې کره او معياري ليکدود کارولی، املاء او انشاء يې له منل شوو اصولو سره برابره او ژبه يې روانه، ساده او عام فهمه ده.

په پښتو ژبه کې د ژبنيو مسايلو او ژبپوهنيزو کلمو او اصطلاحاتو په برخه کې د ښاغلي څوليزي د دې سيند ليکل غوره او ګټوره هڅه ده، خو وروستۍ او بشپړه نه، ځکه

## انګلیسي – پښتو

ځومره چې علوم او فنون مسلکي او تخصصي کېږي، نـو ورسره یـې کاربـدونکې کلمـې، اصطلاحات او ترمينالوجي هم مسلکي او تخصصي کېږي. نن سـبا ژبپوهنـه او اړونـدې برخې يې هم ځانګړې مسلکي او تخصصي ځانګې دي، نو پکار ده چې په پښتو ژبه کې هم د ژبپوهنې د بېلابېلو څانګو په اړه ځانګړي او تخصصي سيندونه وليکل شي. په دې برخه کې ډېرې سترګې مسلکي څانګوالو ژبپوهانو ته اوړي، نو خدای تعالی دې وکړي، چې موږ په راتلونکي کې په پښتو ژبه کې د دغـه ډول ژبنیـو او ژبپـوهنې ځینـو آثـارو د ليکلو او چاپ شاهدان اوسو.

په پای کې زه ښاغلي پوهنمل عثمان څوليزي ته د دې سيند د ليکلو او چـاپ له امله مبارکي وايم او دعا کوم چې خدای تعالی دې ورته پـه علمـي ډګـر پـه ځـانګړي ډول د ژبنيو او ژبپوهنيزو مسايلو په برخه کې په پښتو ژبه د نورو علمي آثارو د ليکلو او لاس ته راوړونو توفيق نصيب کړي.

څېړنوال دوکتور رفيع الله نيازی

احمدشاه بابا مېنه - کابل

۱۴۰۱/۹/۲۷ل